مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهندوی آصف بهاند

۲۰۲۲/۰۵/۲۹

«کورونا» نا روغي، د لنډیو په غېږ کې

اوه پنځوسمه برخه

لنډۍ، د ثبتولو ستونزه

یوسلوڅلورڅلوېښتمه برخه

تا خو په ما پورې خندلې
چې کورونا شوې اوس دې خبژي فریادونه

که نړۍ ټوله کورونا شي
دیدن د یار مې چې عادت دی وربه شمه

چې نیمه شپه شي تبه سره شي
د کورونا په ناروغ نور راځي دردونه

د کورونا درد به هم تېر شي
د ظالم زویه ته مې ناخلې احوالونه

د کورونا له رامنځته کېدو نه تر اوسه پورې، دې وبا ډېر انسانان د ګور تیارو ته ولېږل، بشریت هم غلی نه شو او د دې وژونکې پدېدې په مقابل کې یې هڅې پیل کړې، بندیزونه رامنځته شول، رنګارنګ واکسینونه جوړ شول، دا واکسینونه چا ولګول او چا یې مخالفت وکړ، چا ته ورسېدل او څوک ورنه محروم شول.

د کورونا وبا په مقابل د واکسینونو د جوړېدو او تطبیق څخه دوه کلونه تېر شول او نړۍ د خلکو د پاملرنې برخې دا واکسینونه ولګول او دا لړلۍ اوس هم روانه ده، کورونا شته ده، خو د روغتیا نړیوال سازمان تراوسه پورې پر کورونا وبا باندې د بشریت د بشپړې بریا په باب څه نه دي ویلي، خو د رپوټونو په ترڅ کې یې دا ویلي دي چې واکسینونو دا ځواک بشریت ته ورپه برخه کړې دی چې په کورونا وبا باندې د اخته کېدو یو څه مخنیوی وکړي او د مړینو او تلفاتو شمېرې راټیټې کړي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ



د کورونا وبا د تلفاتو په مقابل کې بشریت داسې تجربې تر لاسه کړې چې اوس یې د وقایې په بڼه کاروي او خلک کولای شي چې د هغو په عملي کولو سره ځانونه ترې وساتي، واکسینونو هم مرسته وکړه او د تلفاتو شمېر یې یو څه راټیټ کړ.

د کورونا وبا د نویو بڼو رامنځته کېدل او ورسره د نویو ستونزو زېږېدل او تلفات، بشریت اړ کړی دی چې نوې هڅې پیل کړی او د دې وبا د مخنیوي له پاره نوې لارې چارې وپلټي.

په دې ورستیو کې، په نړۍ کې داسې سیاسي، اقتصادي، طبعي او... پېښې رامنځته شوې چې کورونا وبا یې له نړیولو څخه تر یوه بریده هېره کړې ده.

سره له دې چې کورونا وبا ستونزې په نړیواله کچه، په تېره افغانستان کې لکه د پخوا په څېر مطرح نه ده او خلک د نورو ستونزو د شتوالي په مجه دومره پاملرنه نه ورته کوي، خو په پښتو لنډیو کې یې انعکاس او یادونه لا هماغسې مطرح ده او د لنډیو تخلیقونکي یې په بېلابېلو بڼو په هنري ډول یادوي، ستونزې او دردونه یې د لنډیو په لنډ قالب کې په هنرمندانه ډول انځوروي.

په کورونا پورې اړوند لنډیو په لړ کې، په دې برخه کې هم څو نوې او داسې لنډۍ وړاندې کوم چې د کورونا وبا نه د رازېږېدولو ستونزو انځورونه په هنرمندانه ډول په کې لیدل کېږي:

جانان دا څو ورځې رانغی
د کورونا خیال بې پر موږه کړی وینه

جانان مې هېڅ نه مالومېږي
راته ښکارېږي کورونا به وي میینه

ما خو دروغ، دروغ ګڼله
د جانان کډه کورونا ورباروینه

تا خو په ما پورې خندلې
چې کورونا شوې اوس دې خېژي فریادونه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

حال مې له چا سره شریک کړم
یار کورنا دی اوس دردونه تېروینه

ته کورونا وې حال دې نه وې
عالم خبر شو اوس دې څه کړم احوالونه

خاونده یار کورونا نه کړې
پردی وطن دی بیا به څه چاره کومه

پرېږده پېغور د ټولو واورم
د کورونا احوال یې خلک خبروینه

اوس هم ډارېږم په تشویش یم
په سفر تللی کورونا نه وي میینه

که نړۍ ټوله کورونا شي
دیدن د یار مې چې عادت دی وربه شمه

داسې طبیب به پیدا نه شي
چې کورونا نیولی ژر ورغوینه

چې نیمه شپه شي تبه سره شي
د کورونا په ناروغ نور راځي دردونه

د کورونا درد به هم تېر شي
د ظالم زویه ته مې ناخلې احوالونه

په وروستي وخت کې یو ځل راشه
د کورونا ډار مې په مرگ تهدیدوینه

لاس مې چې درکړ، لاس دې سور و
د کورونا احوال دې لاس کې ښکارېدنه

کورونا رنځ دی، شرم نه دی
دغه حالت خو په هرچا باندې راځینه

چې هر خوا ولاړ شې، کورونا شته
له دغه رنځه خلاصی نه شته په سیلونه

ځان کورونا ته ولې سپارې
په خپلو پښو چې ورروان یې، خود دې وړینه

خلک خوشحال وو سره او سپین وو
د کورونا راتگ خو زېږ کړل ډېر مخونه

د ژوندون ټول خوندونه ستا شول
زه کورونا یم خپل نصیب مې ژړوینه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ